زېړی

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د اداري يادښت: د ۱۴۰۰ لمريز کال د ثور مياشتې (۳- ۴مه) ګڼه چې په ۱۴۰۰ لمريز کال کې يې د چاپ او خپراوي تمه کېده، د چاپ د ځنډ او وروسته په هېواد کې د سياسي تحولاتو له امله ځنډېدلې وه، د اسلامي امارت له راتګ سره دا دی تر بيا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

پنجشنبه، (۳- ۴مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۷۱- ۳۷۲مه) ګڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د ثور (غويي) د مياشتې ۳۰مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د شوال د مياشتې ۹مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د مې ۲۰مه.

استعاره او حسي فعلونه

پوهنمل ګل رحمن رحماني

د شلمې پېړۍ تر اتمې لسيزې پورې استعاره په ادبياتو کې يواځې د يوه ژبني مفهوم په توګه مطرح وه، چې تر ډېره ورځخه په دوديز ډول په ادبي فنونو او بيان کې شاعرانو او د بلاغت پوهانو کار اخيسته، خو له دې کلونو وروسته په ژبپوهنه کې هم د يوه ذهني مفهوم په نوم وڅېړل شوه او په يوويشتمه پېړۍ کې له ژبپوهنې سره يو ټرلی مفهوم وګرځېد.

هغه استعاره چې په ژبپوهنه کې ورځخه کار اخيستل کېده، د ((مفهومي استعارې)) په نامه ياده شوه، چې د دې تيوري لومړی رامنځته کوونکی هم ليکاو جانسن دی. نوموړي دا نظريه په ۱۹۸۰ زېږديز کال په خپل اثر ((استعاره؛ هغه څه چې په کې ژوند کوو)) کې معرفي کړه، خو ايرانۍ ژبپوهه ازيبا افراشي وايي چې تر ده وړاندې په ۱۹۷۹ کال کې مايل ردي هم يوه مقاله ليکلې او د ژبپوهنې سره په تړاو يې د استعارې نوې پېژندنه وړاندې کړی ده. د ردي وړانديز دا و چې د استعارو د شننې او تحليل کچه ژبه نه، بلکې ذهن دی.

تر دې وروسته بيا ژبپوهانو د ژبې او ذهن پر اړيکه څېړنې وکړې چې د دې اړيکې بېلابېلې خواوې د مفهومي استعارو په مرسته روښانه شوې. مفهومي استعارې ذهني ترکيبونه او جوړښتونه دي چې ټولې يې يوازې يو ژبنی جوړښت نه څرګندوي، بلکې معناوې يې په فرهنګ، هنر، ادابو او دودونو کې هم راڅرګندېږي. د بېلګې په توګه په جاپاني فرهنګ کې يوه ذهني استعاره ده چې وايي ((تر ټولو غوره دروند وي)). د جاپانيانو دا استعاره د هغوی فرهنګ کې راټوکېدلې، يعني د دوی دود څرګندوي، چې د ډاليو د ورکړې په اړه دی.

د دوی په اند هره هغه ډالۍ چې ډېر وزن ولري، د ډېر درناوي او د مقابل لوري د پاملرنې په معنا ده، هغه که هر څه وي. په همدې ډول کولای شو چې فرهنګي چلند د مفهومي استعارو په وسيله تحليل او روښانه کړو. ژبپوهانو په دې اړه د افريقا د سويل لوېديځ د يوې قبيلې لونګ مثال راخيستی دی او وايي چې دا قبيله په ښکار کې ډېر مهارت لري او اصلي کاروبار يې همدا دی. د دې قبيلې خلک په ډېرو خبرو مشهور دي. دوی په حقيقت کې له ډېرو خبرو د يوې درمليزې وسيلې کار اخلي، ځکه فکر کوي چې د دوی د رواني سکون او درملنې يوازينۍ لار همدا ده چې ډېرې خبرې وکړي او رواني استقرار ومومي. په دې سبب ډېرې خبرې کول د لونګ قبيلې لپاره يو مثبت ارزښت او د درناوي استعاره ده.

په پښتني ټولنه کې ځينې قبيلې او کورنۍ داسې هم دي که چېرته مېلمه ورشي او د چايو پر مهال ورته د چايو پياله پوره ډکه نه شي او ۳مخ

اورتو اپپي



څېړنپوه مولاجان تنيوال

ژباړه او لنډيز

په جرمني ژبه کې د پرديو ويونو په سيند کې اورتو اپپي[1] او اورتو اپپيک[2] دواړه د يوناني ژبې ويونه ګڼل شوي او په اړه يې ليکل شوي دي چې د ويونو د سم او رښتيني تلفظ پوهې ته اورتو اپپي يا اورتو اپپيک وايي.[3] په همدې ډول په يوه بل سيند کې چې د ژبپوهنيزو نومونو سيند نومېږي د اورتواپپي په برخه کې داسې ليکل شوي دي: ... په يوه ادبي ژبه کې د وينګ يا تلفظ د باور وړ نورمونو جونګ ته اورتواپپي وايي؛ يا هغه پوهه ده چې په ټولنيز لحاظ د باور وړ تلفظي نورمونه تر څېړنې لاندې نيسي.[4]

اورتو اپپي د ټولو هغو اصولو او قاعدو ټولګه ده چې د ليکنۍ ژبې سم وينګ يا تلفظ ټاکي. دا وينګ د هغه ټول ولس لپاره چې په هماغه ژبه خبرې کوي د يوه ماسټر[5]، سېمپل يا نمونې په توګه اهميت او ارزښت لري. دا اړينه ده چې په يوه ژبه غږېدونکي خلک هماغه يو شی وينګ زده او خپل کړي تر څو په ملي کچه د ژبې يووالي او بشپړتيا ته ورسېږي. که چېرې د وينګ د توپيرونو لپاره خلاصه لار[6] موجوده وي دا نو سړی په اسانۍ سره د ګردوديزې ټوټې ټوټې کېدنې لوري ته بيايي.

د رومانيا ولس ته د تېر وخت څخه يو داسې حالت په ميراث پاتې دی، چې يو شان وينګ نه لري؛ هغه کسان چې زده‌کړې يې کړې دي د ليکدود نورم ته ډېر نيږدې دي په داسې حال ۳مخ

نوموړکی ولسي شاعر عبدالله جان هلمندی

څېړنيار شريف الله دوست

کله چې پښتو ادب کې د منظوم ادب په اړه پلټنه کوو، نو د ديواني او فنوني شاعرۍ تر څنګ بايد ولسي ادب هم له پامه ونه غورځول شي. ځکه دپښتو لويه ادبي او معنوي پانګه په ولسي شاعرۍ کې خوندي ده. دا چې ولسي ادب ولې لنډ عمر لري او د شاعر له مړيني سره يې شاعري هم تر خاورو لاندې کېږي علت يې نالوستوب او د شعرونو نه خوندي کول دي. په ولسي شعرونو کې د پښتنو د ټولنيز، سياسي، دوديز او اقتصادي ژوند ډېر ژور ارزښتونه خوندي دي هغه چې ولسي شاعران يې د تخليق له لارې منعکسوي او په ولسي ژبه يې بېرته د ولس مخې ته ږدي. ولسي شاعري که څه هم د ديواني او فنوني شاعرۍ په څېر د شعرپوهنې او وزنپوهنې له ځينو آرونو او معيارونو سره سر نه خوري، خو هغه ارزښت چې موږ په شعر کې ورباندې حساب کوو لکه: تخيل، احساس، پيغام په خورا ساده او زړه وړونکي انداز په کې څرګندېږي او د بيديايي ګلونو او غرنيو ميوه لرونکو ونو په څېر؛ خوند او پند، رنګ او ترنګ په خورا اخلاص په کې ليدل کېږي.

زموږ د ولسي ادب له پياوړو شاعرانو څخه يو هم (عبدالله جان هلمندی) دی د هويت د تذکرې له مخې نهه پنځوس کاله عمر لري، د حاجي خداينظر پوپل زوی دی، پلار يې د خپل وخت تکړه ملا او کليوالي روغتياپال (طبيب) و. نوموړی د هلمند ولايت د نهرسراج ولسوالۍ د خشکاوې

(خشکآبې) اوسېدونکی دی. په تنه ګراب او کاړي واړي (غټ جسامت) لرونکی دی. له کلونو راهيسې په لښکرګاه ښار کې ګرځي، اقتصادي وضعيت يې شو په شو او تاک په تنې(کمزوری او سرګردانه) دی. روغتيا يې هم سمه نه ده. په وينا يې چې د ښار شتمن بچوچه (حريص) کسان سر نه په ګرځوي او مرسته نه ورسره کوي. د لښکرګاه ځينې ښاريان او دوکانداران يې نازوي جېب خرڅ ورکوي. نوموړی ورته د ټولنيز ژوند پر ناخوالو فی البديهه شاعري کوي، شعرونه يې روان، سليس عام فهمه په ولسي ژبه دي پر نادودو او ټولنيزو عيبونو باندې انتقادي محتوا لري يو نوی اصلاحي او انتقادي نظم مې خپله د ده له خولې ليکلی دا دی ستاسو مخې ته يې ږدم: ۳مخ

د مقالې ليکلو لارې چارې

اتمه برخه

ليکواله: مېرمن رياحي

ژباړه: څېړنيار فضل الرحمن عليزی

اووم ګام

د مقالې د سريزې (Introduction) د ليکلو اصول

هره مقاله په يوې مقدمې(Introduction) سره پيلېږي. د مقالې سريزه له لوستونکي سره د څېړنې د علت په پېژندنه کې مهم رول لري. د يو شمېر هغو کسانو پرخلاف چې وايي د مقالې د سريزې (مقدمې) برخه ډېره مهمه نه ده؛ بايد په دې پوه شو چې د مقالې دا برخه په حقيقت کې ستاسو د کار د ارزښت ښودنه کوي. په دې برخه کې بايد داسې دلايل وړاندې شي چې ستاسو ليکنه او څېړنه ضروري او مهمه ده، نو په دې اساس سريزه ستاسو د څېړنې د تر سره کولو دلايل موږ ته بيانوي.

سريزه معمولاً پر يوه کُلي جمله باندې پيلېږي، وروسته له موضوع سره تړلې اصلي او اساسي ستونزه بيانوي. د ستونزې له بيانولو وروسته بايد ووايو چې تر دې مخکې تر سره شوې څېړنې څه وړاندې کړي دي او اوسنۍ څېړنه د څه لپاره تر سره شوې ده؟ اوس کومه ستونزه موجوده وه او زه له دې څېړنې څخه څه غواړم يا دا څېړنه د کوم هدف لپاره تر سره شوې ده؟

د مقالې د سريزې اصلي برخې

ځانګړې او ټوليز هدفونه: د هدفونو روښانه کول، لنډون په پام کې نيول، د سنجول شوو اهدافو ليکل او د آرماني هدفونو له ليکلو څخه ډډه کول.

د څېړنې مسئله: د مسئلې منطقي پالنه.

د څېړنې اهميت او اړتيا: له نظري او عملي اړخه.

د څېړنې شاليد: يو ذهني او نظري چوکاټ را وړل او له يوې نظريې څخه د څېړنې د ملاتړ لپاره استفاده کول، په دې برخه کې تر سره شوو څېړنو ته لنډه کتنه، له کلي څېړنې څخه پيل او اختصاصي څېړنې ته ځان رسول، د امکان تر کچې د لومړي لاس او له نويو منابعو څخه ګټه اخيستل؛ همدارنګه له دويم لاس منابعو څخه د ګټې اخيستنې په صورت کې په مناسب ځای کې د نقل قولونو راوړل، تاريخ ته په کتلو سره د لومړي لاس او دويم لاس منابعو ترتيبول، استناد او د رفرنسونو يادونه، پايله او د دې ترڅنګ د څېړنې د تر سره کولو څرنګوالی په ګوته کول.

د فرضيې طرح: د ساده جملو په چوکاټ کې.

د يوې علمي سريزې د ليکلو لپاره مهم ټکي

۱. د مقالې د موضوع په اړه يوه لنډه سريزه. ۲مخ

لیکوال: پروفیسر انور جمال
ژباړه: نازو کمال

٦. ابلاغ، معنا رسونه (Communication)

دا یوه کره کتنیزه او د ټولو فنونو اصطلاح ده. ادیب چې کومه خبره کوي، یا کوم انځور وړاندې کوي، لکه څرنګه چې شاعر یا ادیب حس کړی وي، لوستونکی او اورېدونکی یې هم کټ مټ هماغسې احساس کړي، ابلاغ ورته ویل کېږي. هدف یې د تجربو داسې بیان دی، چې د شاعر غږ په انساني نړۍ کې یو څه شور رامنځته کړي. دا بېل بحث دی چې داسې فني تجربې دې کومې ځانګړنې ولري، خو د ابلاغ یو اساسي شرط دا دی چې علمي او ذوقي کچه باید برابره وي. مکالمې هغه وخت ارزښت لري چې دوه مخامخ کسان یو ډول پوهه ولري، خو په عام ډول داسې نه کېږي، ځکه پنځونکی د خپل ځانګړي مهارت، ژور احساس او خاص تخیل په وسیله له عامې کچې لږ ډېر لرې شوی وي؛ نو په همدې خاطر دا خبره یو څه ستونزمنه ده، چې شاعري دې باریکۍ هم ولري او پوره معنا دې هم ورسوي.

۷. ابهام (Ambiguity)

د هنر په هره برخه کې د هنرمند او لوستونکي ترمنځ ذهني توپیر یا کچه ابهام رامنځته کوي. دلته دوه حالته دي، لومړی: چې د هنر تخلیق او معنا رسونه یو ډول نه وي، نو ګڼې معناوې راپیدا او هنر به څو اړخونه ولري، دلته د پوهاوي د یوې نوې او ښکلې بڼې د رامنځته کېدو امکان شته. دویم: دا چې د ابهام تکرار د ښکلا یووالی پیدا کوي. له ابهام پرته هیڅ هنرمند خپل هویت نه شي ثابتولی، ځکه څرګند بیان خو د علمي مسایلو لپاره دی، له شعري او تخلیقي باریکیو به خالي وي. دلته د هرې مکالمې لپاره مساوي یا برابر شعور هم اړین دی، له دې پرته هیڅ خبره واضح نه شي کېدای، نو د معنا رسونې لپاره له دې شرطه سترګې نه شو پټولی. شاعري په خپل زماني او مکاني ځای کې پرمخ ځي، د شاعرۍ الهام هم هر چاته نه کېږي، که کېږي هم هغه چاته به وشي، چې د پوهې لوړې کچې ته رسېدلی وي.

۸. اجتماعیت (COLLECTIVNESS)

چې موخه یې یو فرد نه، بلکې ټولنه وي، اجتماعیت ورته وایي. هر کله چې د ادبیاتو موضوع د شخصي احساساتو پر ځای د انساني ټولنې پر ستونزو، خوښي، مینه او اخلاقي مسایلو راځرخي، د اجتماعیت په دایره کې شامليږي. داسې ادب د یوې ټولنې ټول ژوند ته ارزښت ورکوي.

۹. احساس (FELLING)

احساس د اروا‌پوهنې اصطلاح ده. د ادبي اصطلاحاتو نظام چې کوم اصطلاحات له اروا‌پوهنې پورکړي دي، په هغو ټولو کې احساس تر نورو ډېره منل شوې شعري او انتقادي اصطلاح ده. احساس حسي تجربې ته وایي، چې خوښي او خپګان دواړه په کې شامل دي؛ لکه ګلاب یو ګل دی، چې د حسي تجربې له مخې ښکلی رنګ لري او ښایسته ښکاري، په لیدو یې ښه حس ورسره پیدا کېږي. د اورېدو تجربې پر اساس که یو بد غږ اورو، نو انسان خپه کوي. د اروا‌پوهنې نامتو پوهانو ټیچنر او وونټ د احساس پر اروا‌پوهنیز اړخ او عواملو ډېرې څېړنې کړي دي، خو دلته موخه ادبي ساحه ده، په شعري برخه کې، د احساس کلمه د تخلیقي تجربو، د خامو موادو په نامه یادېږي، یعنې احساس په واقعیت کې د پنځونې لپاره خام مواد دی.

۱۰. اخلاقیات (ETHICS)

اخلاقیات یوه فلسفي اصطلاح ده، چې د ادبیاتو په بېلابېلو برخو کې هم کارېږي. اخلاقیات د انساني کړو وړو (خیر او شر) او د هغو د اصولو علم دی؛ خیر څه شی دی؟ د ترلاسه کولو لارې چارې یې کومې دي؟ خیر پېژندنه او د هغه د اساسي عناصرو تجزیه د اخلاقیاتو په ساحه کې شامليږي. په پخوانۍ یوناني فلسفه کې خوند د خوښۍ مترادف ګڼل کېده، ویل یې کوم عمل چې انسان ته خوښي ورکوي، خیر دی. افلاطون ښکلا، ریښتنولي او خیر په لوړو انساني اعمالو کې شمېري. سقراط بیا (علم) د اخلاقیاتو (خیر) اساس ګڼي، خو ارسطو بیا د احساساتو ارزښت هم ور زیات کړی دی. په دې برخه کې ارسطو یوه ډېره مهمه خبره کوي، وایي: یوه عمل ته یوازې د دې لپاره خیر نه شو ویلی چې انسان ته خوښي وربخښي، بلکې د نیکۍ له امله په یوه عمل کې د خوشحالۍ عنصر پیدا کېږي. سقراط عقلي استدلال د خوښۍ د حاصلولو وسیله ګڼي. فسلفې پر اخلاقیاتو او د عناصرو پر ماهیت ډېر بحثونه کړي دي او بالاخره پایله یې دا ده چې په ټولنه کې د خوښې ژوند تېرولو وسیله دا ده چې انسان د ټولنیزې خوښۍ هڅه وکړي، بیا انفرادي یا فردي خوښي ترلاسه کولی شي او همدا خیر دی.

۱۱. سرمقاله[۱] (EDITORIAL)

په اصل کې د ژورنالیزم اصطلاح ده، هغې لیکنې ته ویل کېږي چې د کومې ورځپاڼې مسئول مدیر یې د اوسني حالاتو یا کومې نوې پېښې په اړه لیکي او لوستونکي پام ور اړوی. کارل جي مېلر یې داسې راپېژني: ((سرمقاله هغه مضمون ته ویل کېږي، چې پر جنجالي پېښو لیکل شوی وي او لوستونکي هغه ټکي ته وهڅوي چې د مضمون لیکونکي په اند سمه لاره وي. سرمقاله لیکونکی د لوستونکي پام همغږۍ ته را اړوي او هڅه کوي چې لوستونکي ورسره همغږي شي. لیکوال له بېلابېلو لارو د لوستونکو احساسات اغېزمنوي.

۱. دغه اصطلاح په اردو کې د ((اداریه)) ترسرلیک لاندې تشریح شوې وه، د اوس لپاره ما هم همدلته پرېښوده.

د علومو اکاډمي په ۱۳۹۹ کال کې...

د چاپ شویو کتابونو په لړ کې نیمایي یې د ادبیاتو اړوند دي چې نومونه یې دا دي:

فرهنګي ادبي پېښلیک، د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د پښتو ادب پرمختیایي بهیر څېړنه، خط و دستور زبان اوستایی، په افغانستان کې د فولکلور پېژندنې اړتیا، د ستورو چینې (لومړی ټوک) ، رښتینې هڅې (دویم ټوک)، رښتینې هڅې (دریېم ټوک)، په پښتو ادبیاتو کې د سریزې لیکنې دود او ارزښت، د سوات پښتو ادب او ثقافت، د فولکلور پوهنې سیمپوزیم، د ادبیاتو فلسفه، د پښتني فولکلور چاپي مجموعو څېړندود، د ګوري ژبې د ولسي ادبیاتو شکل او مضمون، د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو خطي نسخو تحلیلي څېړنه، په پښتونخوا کې پښتو لنډه کیسه، خط و دستور زبان اورمړی، د عبدالحنان داعي کلیات، مجموعه مقالات سیمینار (بدخشان در گستره فرهنگ و تاریخ)، د اورمړي ژبې لیک لوست او ګرامر، خوشحال او شخصیات، شعر پوهنه، د پښتو او پشه‌یي ژبې ګرامري نژدېوالی، نابغه خوشحال «د مقالو ټولګه»، د ګوري ژبې الفباء، میر علی شېر نوایي (له انګریزي څخه پښتو ته ژباړه).

د دې کتابونو ترڅنګ د علومو اکاډمي په ۱۳۹۹ هـ. ش کال کې د «پښتو لهجوي قاموس» شپږم، اووم او اتم ټوکونه هم چاپ او خپاره کړي دي.

د یادو شویو کتابونو په اړه لنډ معلومات وخت په وخت د علومو اکاډمي له فېسبوک پاڼې (د افغانستان د علومو اکاډمي) څخه خپاره شوي او هم د همدغو کتابونو یو څه محتویات د علومو اکاډمي په ویبپاڼه (https://asa.gov.af/) کې هم موجود دي.

د څېړنوال مولوي زین الله منلي...

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر محمد طاهر زهیر وویل: د مولوي منلي پاتې شوي آثار پر دې شاهدي ورکوي چې دی د افغانستان اکاډمیک ډګر کې معنوي پانګه وه او د دې ترڅنګ خیرخواه او نېک انسان هم و.

په علمي او ټولنیزو چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون د استاد زین الله منلي له خاطرو څخه یادونه وکړه او ویې ویل: د استاد په زمانه کې چې چا ژبې ته کار کړی، د زړه له تله یې کار کړی دی، مخلصانه لیکنې یې کړې دي. پر خپل قوم او خلکو یې لوړېده چې دوی ته د علم او فرهنګ په ډګر کې یو څه پرېږدي، د استاد د زمانې لیکوالانو او پوهانو لېوالتیا لرله چې څنګه خپل خلک په علومو کې ورسوي او ټولنې ته د خدمت جوګه شي.

د هغه په وینا، مولوي زین الله او نورو مخکینیو پوهانو او استادانو زموږ ماضي راټوله کړې، ادب یې د دین له لارې معرفي کړی، هغوی د زمانې خبرې خوندي کړي.

د ولسمشر فرهنګي سلاکار استاد اسد الله غضنفر وویل، د اشخاصو یاد غونډې علمي سیمینارونه نه دي چې علمي بحثونه وشي، دلته باید د اشخاصو د ژوند جزئیات او خاطرې یادې کړو او دا خاطرې د تاریخ پټ بابونه را سپړي چې لوستونکو ته مهم وي. د اشخاصو د ژوند د ګوښه برخو یا خاطرو یادونه د هغوی د ژوند جزئیات بیانوي، جزئیات د حواسو مخاطب وي، خو کلیات د عقل، څومره چې وینا حواسو ته نږدې کېږي، مخاطب په کې ځان شامل احساسوي.

د ده په وینا، نمانځغونډې په درېوو دلایلو ترسره کېږي: یو دا چې د دوی د خدمتونو قدرداني کېږي، بل دا چې ځوان نسل کې انګېزه پیدا کېږي، که دوی هم کار او خدمت وکړي، نمانځل کېږي به او درېیمه دا چې په دې سره تاریخ بشپړېږي، معلومات زیات او غني کېږي.

لیکوال او څېړونکي محمد اصف صمیم وویل چې مولوي منلي فکر درلود او هغه یې عرضه کاوه هم. ده نوې خبرې درلودې، ولې متأسفانه زموږ په ټولنه کې چې څوک نوې خبرې ولري، هغه شخص نه زغمل کېږي.

په پای کې استاد نجیب الله منلي د غونډې له ګډونوالو نه مننه وکړه او یاده یې کړه چې مولوي منلی تر ۲۰۰ مقالې او ۳۰ چاپ او ناچاپ آثار لري.

د هغه په وینا، مولوي منلي خپل وروستی کوچنی کتاب (عرش عظیم) په ۹۵ کلنۍ کې لیکلی او تر مرګ درې ورځې مخکې یې د همدې کتاب د ایډیټ کولو پوښتنه له ده څخه وکړه، نو په دې اساس دی د ژوند تر پایه له قلم او لیکلو سره پاتې شوی دی.

د زري کړکي جایزې اعلان شوې...

هغه آثار چې سرکال یې د زري کړکي د اکاډمۍ توجه جلب کړې وه، دا دي:

۱ - نخستین فلامنکو در سمنگان، د سید طیب جواد اثر؛

۲ - هر یو خپل سقراط دی، د محمد انور وفا سمندر ناول؛

۳ - یک لب سکوت، د تمنا توانګر د شعرونو ټولګه؛

۴ - سرتوره ابیقوره، د ډاکتر جنید شریف د شعرونو ټولګه؛

۵ - بیم موج، د استاد محمد محق اثر؛

٦ - د طوبی تر سیوري لاندې، د آمنه فنا سعیدي د شعرونو ټولګه؛

۷ - رشته‌ی باران، د تاجکستان د پېژندل شوي شاعر عبدالجبار سروش د اشعارو غورچاڼ چې د ګلنور بهمن په زیار درې خط ته اړول شوی و؛

۸ - لیکلوري، د ادبي نقد په اړه د قیصر اپریدي د تنقیدي لیکنو مجموعه.

د ګډ فرهنګ د ودې او پراختیا په لار کې د خدمت ستایندړه د تاجکستان شاعر استاد عبدالجبار سروش او د اوزبکستان شاعر او لیکوال جولان جولایف ته ورکړل شوې.

...د علومو اکاډمي د اتنوګرافۍ ...

۱ -د افغانستان اتنیک آثار

۲ -د افغانستان لرغوني آثار (سکې)

۳ -د مډرن هنر آثار چې د هنر د برخې څېړونکو ته ډېر ګټور دي.

د دې لپاره چې دغه آثار په ښه توګه وپېژندل شي، نو آثار له معرفي او تشریح سره په مشخصو ویترینونو کې ایښودل شوي دي، ترڅو ننداره کوونکو او څېړونکو ته د افغانستان د مادي فرهنګ او د آثارو د تحول پېژندنې په هکله معلومات وړاندې شي.

د علومو اکاډمي د موزیم آمریت د موزیم معرفي، د اتنوګرافۍ تعریف او اهداف په یوه بروشور کې ترتیب کړي چې د ټولو مینه والو په خدمت کې دي، همدارنګه د موزیم په مهالنۍ کې د موزیم آثار معرفي او خپرېږي. دغه راز د دې موزیم فعالیتونه د «موزیم تحقیقی و اتنوګرافی» په نوم فیسبوک پاڼې څخه خپرېږي او لوستونکي کولای شي هغه لایک/ خوښ کړي.

دغه موزیم له پخوا څخه تراوسه پورې د ټولو هېوادوالو او بهرنیانو پر مخ خلاص دی او اوس هم ورځخه هره ورځ لسګونه کسان لیدنه کوي.

استعاره او حسي...

نيمه غوندې وي؛ نو کوربه داسې انګيري چې ګني مېلمه ته سپکاوی شوی او د پوره سړي او شخصيت فکر نه دی ورته شوی، بله دا چې پياله تر نيمايي پورې ماشومانو ته ډکېږي او هغه هم د احتياط لپاره، چې که واوړي؛ نو د ماشوم د سوزېدو امکان وي.

په حسي استعاره کې اصلي خبره د فعل ده، فعل په ټولو ژبو کې شته دی چې په حقيقت کې د پنځه‌ګونو حواسو کړنې ستايي. په پښتو ژبه کې ليدل، اورېدل، څکل، بويول او لمس کول فعلونه دي، خو دا فعلونه حسي فعلونه بلل کېږي چې لوستونکي ته د کلياتو پر ځای جزئيات انځوروي؛ خو د حسي فعلونو چاپېريال يوازې تر همدې پنځه ګونو کړنو پورې محدود نه دی او ژبې هم له دې اړخه چې د پنځه ګونو حواسو څخه د هر يوه د کړنې د توصيف او ستاينې لپاره څومره فعلونه له کومو ځانګړنو سره کاروي؛ يو له بله سره توپير لري.

مثلا پښتو ژبه کې ليدل، کتل، پاملرنه، تر سترګو کېدل، له سترګو لوېدل، سترګک، څارل، نظر کول او نور... زموږ د ليد(بينايي) حس اړوند فعلونه دي. خو په پښتو او ګڼو نورو ژبو کې د بوی د حس د فعلونو تنوع نشته او ډېر محدود دي. په دې اساس ويلی شو چې د حسي فعلونو د چاپېريال له اړخه ژبې يو له بل سره توپير لري، خو دا بيا د ټولو مشترکه ځانګړنه ده، چې حسي فعلونه په ټولو ژبو کې له پراخ معنوي چاپېريال څخه برخمن دي او د مفهومي استعارو د تشکيل بنسټ ږدې.

په نړيواله کچه تر ټولو مهم اثر چې په مفهوم جوړونه کې يې د حسي فعلونو اهميت معرفي کړ، د ژبپوه سوييتزر مشهور اثر « from etymology to pragmatics» و چې په ۱۹۹۰ کال کې چاپ شوی دی او ورسره د ژبپوهنې له ليدلوري د استعارو سپړنې او شننې ته لاره پرانېستل شوې ده. په پښتو ادب کې پر دې موضوع څېړنې نه تر سترګو کېږي او د دې تشې ډکول به د ادب او ژبې ترمنځ د هنري پخلاينې غوره لارې چارې برابرې کړای شي.

اورتو اپې...

کې هغه کسان چې زده‌کړې يې نه دي کړې خپل سيمه‌ييز وينګ ساتي. د لندن په ښار کې ډېر زيات انګليسي ګړدودونه شته چې د ښار په حوزو باندې وېشل شوي دي.

په رومانيا کې لا په تېر وخت کې معياري‌توب ته د پام کولو هڅې شوې دي، خو هغو ناڅاپي تاثير درلود او په ټولنه باندې د مرتب پدل څخه بې برخې وي. نن ورځ دولت او د علومو اکاډمي يې زيار باسي چې د ټولو طبقو يا پوړيو، مطبوعاتو، ليکوالانو، تياتر، سينما، راډيو او داسې نورو د درس کرېکټر تر خپل وسه پورې د يوه سم او درست وينګ په ايجادولو کې ونډه واخلي او په ټول هېواد کې عموميت پيدا کړي. سم وينګ کوم يو دی؟ هغه چېرته دی؟ موږ به هغه په نه مراعاتولو سره بيامومو؟ دا جوته خبره ده چې هره سيمه خپلې ګړدوديزې ځانګړنې لري او په هيڅ يوه منطقه کې د هغې د اوسېدونکو خلکو په خبرو کې د غلطيو څخه خالي وينګ موجود نه وي. يو تعريف چې ډنمارکي ژبپوه او څېړونکي او. جيسپرسن[7] په ګوته کړی او موږ ته هم د سرچينې په توګه د منلو وړ ښکاري دا دی چې: په ادبي ژبه هغه څوک غږېږي چې د هغه په ژبه سړی په دې نه پوهېږي چې نوموړی د کومې سيمې دی. ادبي نورم عملاً د ټولو سيمو لپاره يو لوړ او عالي نورم دی، په ټولو سيمو کې عموميت پيدا کوي حتی په هغه سيمه کې هم چې ګړدود په کې اساس وي، ادبي نورم د ټولو لپاره په نخښه کېدونکی دی.

په ځينو هېوادونو کې د تياتر د ستېج تش په نامه ژبه شته: لوبغاړي په ډېرې خوارۍ او سختۍ خبرې کوي او نندارچيانو ته مثالونه وړاندې کوي. په همدې ډول د تياتر عنعنه هم داسې خاصيتونه لري چې حاضرين[8] يې نه مني لکه ارخايزمونه. په رومانيا کې تراوسه پورې د تياتر هيڅ Muster نه دی جوړ شوی. د تياتر داسې ځانګړنې شته چې تر اوسه د علومو اکاډمۍ او د درس طبعي بڼې يا کرېکټر نه دي منلې.

د الماني(ژبې) لپاره د تياتر د ستېج ژبه د تيودور سيبز[9] له خوا په علمي ډول په اساسي بڼه چمتو شوه. راديو او تلوېزيون خورا مهم رول لري. دا دواړه د خاصو دندو د بلې هرې يوې مرجع په نسبت ډېر امکانات لري او کولای شي چې د ادبي وينګ يا تلفظ په پراختيا کې برخه واخلي. دا يوه هيله ده چې ټول خبرې کوونکي(خلک) يو وينګ خپل کړي او د يوې دقيقې څخه تر بلې دقيقې پورې يې بدل نه کړي. دا خبره بايد زياته شي چې نمونه‌ييز وينګ د وخت په تېرېدو سره پرمختګ کوي.

زما(ژباړن) په نظر خو د سم وينګ څخه مخکې بايد چې د سمې ليکنې ستونزه حل شي دا ځکه چې د سمې ليکنې د اصولو څخه په پېروۍ سره د ويونو معناوې په اسانۍ سره پېژندل کېږي، د هر ويي د کارونې ځای او دريځ په نخښه کېږي، د خج موقعيت او د څپو شمېر ترې څرګندېږي (دا يادونه بايد وکړم چې ځينې ويونه چې ليکلې بڼه يې يوه وي معنا يې د خج د دريځ له مخې پېژندل کېږي) که چېرې د سمې ليکنې او د يوه واحد ليکدود د رامنځته کېدو او عموميت ستونزه حل نه شي، نو شونې نه ده چې د سم وينګ ربړه له منځه ولاړه شي. زما په اند خو تر هغې چې اصلي ستونزه له مخې لرې نه کړای شي د سم وينګ او د ګړدودونو د کارونې مخه نه شي نيول کېدای.

نړيوال لا ډېر پخوا د واحد ليکدود، د نه لرلو څخه راولاړېدونکو ستونزو او پرابلمونو ته متوجه شوي او د سمې ليکنې په نوم يې پنډ پنډ سيندونه ليکلي او ټولنو ته يې وړاندې کړي دي. دوی په دې کړنې سره د ډېرې سترې ټولنيزې ربړې د پراخېدو مخه ډب کړې، ګډوډۍ يې له منځه وړې او د خپلسريو مخه يې نيولې ده. دوی په دې وسيله خپل خلک د خپلمنځي شخړو، ناندريو او د بې ځايه مشاجرو څخه خلاص کړي دي، دلته د موضوع د اهميت او د ګرانو لوستونکو د قناعت لپاره لاندې يادونه د ساري په ډول وړاندې کوم: د جرمني ژبې لپاره د سمې ليکنې په باره کې لومړنی اثر[10] په ۱۸۷۲کال کې د کونارد دادن[11] له خوا خپور شو. دا اثر د سمې ليکنې، وينګ او د پښويې په اړه د پوښتنو په برخه کې مرستندوی و.

زموږ په ژبو کې د سمو ليکلو ستونزه لا پر ځای پاتې او نه ده حل شوې. کله کله خو سړی د يوه او د بل په ليکنو باندې تبصرې اوري او دا محسوسوي چې ليکدود يو نه دی. په دې اړه اوږدو خبرو ته اړتيا نشته. د دې ربړې د له منځه وړلو يواځينۍ لار د يوه واحد ليکدود رامنځته کول او عامول دي.

هيله ده چې زموږ پوهان به په دې برخه کې متفق او عملي ګامونه اوچت کړي او دا ستونزه به چې د نفرت او کرکې څخه بل څه نه ترې حاصلېږي په خپلو علمي کړنو سره له مخې وغړوي او د ژبې د کمزورتيا پر ځای به د هغې د پرمختيا او پياوړتيا لوري ته مخه کړي.

---

۱. Orthoepie ۲. Orthoepik

۳. په جرمني ژبه کې د پرديو ويونو سيند، پنځم ټوک، مان هايم، ۵۴۹مخ، ۱۹۸۲کال.

۴. د ژبپوهنيزو نومونو سيند، بيبليوګرافيک انستيتوت- لايپزيک، ۱۶۹مخ، ۱۹۸۵کال.

۵. Muster ۶. Freie Bahn

۷. O. Jespersen ۸. Publikum

۹. Theodor siebs ۱۰. Buechlein

۱۱. Konrad Duden

نوم‌ورکی ولسي شاعر...

رشوت خوره دورې ګوره!

رشوت خوره ځای دې اور دی
پام کوه چېرې دې کور دی
ستا ودې دنيا ته زور دی
تا له ځانه کارګه(کارغه) جوړ کړ
اوس نو خورې د انسان غوښې
د شيطان سکنی ورور يې
دشيطان پر لار روان يې
زه وتاته ډېر حيران يم
ته اوس څرنګه انسان يې؟!

د ښاغلي عبدالله جان شعرونه پر ټولنيزو ناخوالو راڅرخي، په پورتني شعر کې يې هم په ټولنه کې د يوې ناوړه ښکارندې(پديدې) غندنه کړې ده چې په اسلام کې هم دا پديده په شديدو ټکو غندل شوې، انساني اخلاق هم ورته اجازه نه ورکوي. د ولسي شعر په ژبه ټولنيز سمون او رغون غوره اغېزه لري ځکه نو په کار ده چې په ولسي ادبي برخه کې هم د شاعرانو ادبي حقوق خوندي شي. د عبدالله جان هلمندي په څېر زموږ هېواد کې خورا ډېر ولسي شاعران شته، که پام ورته وشي زموږ د ادب دا برخه چې اوس نيمګړې ده هم د بشپړتيا تکاملي قدم پورته کړي.

مأخذونه

۱. شعر او د ژوند حالات د شاعر له خپلې خولې روايت شوي دي.

۲. رفيع حبيب الله، ولسي سندرې، دويم چاپ ۱۳۹۷ش

د مقالې ليکلو...

۲. د مقالې موضوع اړوند د څېړنې د تيورۍ او د څېړنو پايلو ته لنډه او اجمالي کتنه.

۳. مخکينيو څېړنو ته په پام سره د ستونزې تشريح کول(د هغې برخې يادونه کول، چې هغه په مخکينيو څېړنو کې نيمګړې پاتې شوې وي او دويم ځل څېړنو ته اړتيا ليدل کېږي/ کېده).

۴. د مقالې د هدف تشريح (په ځانګړې ډول د تشريح شوې ستونزې يا د هغې د يوې برخې حل کول).

۵. د څېړنې د ميتود لنډه توضيح (د ميتود په مرسته د څېړنې پوښتنو ته سم ځواب موندل).

۶. د وړانديز(پيش بينيو) او فرضيو توصيف او تشريح (يعنې فرضيو او تيوريو پر اساس بايد وويل شي چې ولې يې د خپلې څېړنې لپاره دا پيش بيني ټاکلې ده).

د مقالې د سريزې ليکلو اصول

۱. سريزه بايد له کلياتو پيل او د جزياتو لوري ته ولاړه شي.

۲. د سريزې په پيل کې بايد کوښښ وشي چې د څېړنې زمينه او وروسته خپله مسئله بيان شي.

۳. د مسئلې زمينه بايد د متخصصانو يا د څېړونکو د څېړنو په استناد او يا هم پايلو ته په کتلو سره طرح شي.

۴. د مسئلې زمينه بايد د مسئلې احتمالي علتونه را پيدا کړي، د مسئلې چوکاټ او ځانګړنې مشخصې کړي.

۵. د مسئلې بيان په حقيقت کې د څېړنې هغه ټوليز هدف دی، يا کېدای شي د يوې کُلي پوښتنې په ډول هم مطرح شي.

۶. د مسئلې په بيان کې بايد د څېړنې ټول خپلواک، ترلي، بدلېدونکي بدلونونه ځای پر ځای شي.

۷. د مسئلې زمينه د يوه پراګراف په ترڅ کې او د مسئلې بيان په يوه جمله يا هم دوو جملو کې بيان شي.

۸. که چېرته څېړنه د يوې نظريې او يا ځانګړو نظريو پر اساس وي، نو د يوه پراګراف په ترڅ کې دې د څېړنې د نظريې په ډول ياده شي.

۹. د موضوع شاليد بايد د څېړنو او ګزارشونو لپاره په منطقي ډول بيان شي.

۱۰. د څېړنې اهميت بايد ياد کړل شي، د څېړنې اهميت کولای شي چې په ښکاره ډول بيان شي يا د مسئلې په بيان کې د څېړنې هدف نغښتي وي.

۱۱. په ټوليز ډول بايد په سريزه کې کوښښ وشي چې د څېړنې مسئله په روښانه ډول مطرح شي او د هغوی د حل لپاره بايد وړانديزونه وړاندې شي.

۱۲. بايد هڅه وشي چې د سريزې د حجم اندازه د ليکل شوو مطالبو % ۲۰ وي.

۱۳. د څېړنې شاليد بايد لنډ وي، د څېړنې له موضوع سره اړوند ليکنې بايد په انتقادي ډول راوړل شي. د دې ټکي يادونه اړينه ده چې تر کار لاندې څېړنه د مخکينو څېړنو نقل نه دی، بلکې يوه کره کتنيزه کتنه ده چې د دې کتنې په ترڅ کې په ګوته شوې نيمګړتيا په اصل کې د څېړنې مسئله روښانه کوي.

۱۴. د موضوع شاليد بايد په داسې ډول بيان شي چې ستاسو څېړنه د تر سره شوې څېړنې تر چوکاټ پراخه وي، يا داسې چې د خپلې مطالعې اړتيا د مخکينيو څېړنو د نيمګړتياوو پر اساس توجيه کړي.

زېرى

علمي، څېړنيزه او ادبي ټولنيزه وړځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۰ ل.کال د غويي مياشت | ۳- ۴مه ګڼه | پرله پسې ۳۷۱- ۳۷۲مه ګڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارګان

مسئول مدير: څېړندوی احسان الحق کبير

کتنپلاوی: څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.

د اړيکې شمېره: ۷۴۴۴۸۷۳۳۵(۹۳+)

برېښنالیک: zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلاري، نوی ښار کابل- افغانستان

د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ

د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک

څېړنوال محمد آصف احمدزی

د استرالیا په تیاتر کې د لومړي ځل لپاره په پښتو ژبه ډرامه وړاندې کېږي

په استرالیا کې د لومړي ځل لپاره یوه پښتنه میرمن په خپل لاس لیکل شوې ډرامه په پښتو او انګلیسي ژبو وړاندې کوي.

دوري شاورخان ۱۸ کاله وړاندې د پښتونخوا له صوابی څخه استرالیا ته کډه شوې او له هغه وخت راهیسې یې تل هڅه کړې ترڅو خپل کلتور او ژبې سره نږدې پاتې شي.

د هغې تازه ډرامه د مهاجرت په اړه ده، چې مهاجرت ته د یوه مور له سترګو کتنه شوې ده.

هغه وایي: مخکې وختونو کې چې د ټکنالوژي وسایل نه وو، زمونږ نیاګانو به کیسې کولې او پښتنو کې د کیسو کولو جلا مهارت دی. ځیني خلک پښتانه په نړۍ کې له جګړې سره تړلي خلک بولي، نو ځکه لیکنو، ډرامو او نورو لارو څخه د خلکو ذهنیت بدلول اړین کار دی.

د دوري شاور خان ډرامه د مې میاشت له ۱۸ څخه د جون میاشتې تر ۴مې نېټې (د غويي له ۲۸- د غبرګولي تر ۱۴پورې) په The Blue Room Theatre کې وړاندې کېږي.

د علومو اکاډمي په ۱۳۹۹ کال کې ۴۹ عنوانه علمي- څېړنيز آثار چاپ او خپاره کړي

د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست د ۱۳۹۹هـ. ش کال په اوږدو کې ۴۹ عنوانه علمي- څېړنيز آثار چاپ کړي دي.

هر اثر چې د علومو اکاډمي له خوا چاپېږي، لومړی د نشراتي کمیسیون له خوا ارزول کېږي چې د چاپ وړ دی او که نه، کله چې د همدې کمیسیون له خوا کوم اثر تایید شي، بیا یو تن علمي غړی هغه ایډیټ کوي او تر هغه وروسته چاپېږي.

چاپ شوي کتابونه په پښتو او دري ژبو دي چې هر یو د ۵۰۰ ټوکو په شمېر چاپ شوی دی او د علومو اکاډمي پر علمي پروژو سربېره د پښتونخوا او د ځینو کورنیو پوهانو او لیکوالو کتابونه هم په کې شامل دي. *امخ*

د آلو بخارا ګل ادبي جشن جوړ شو

غزنی د غويي پر ۵مه د آلو بخارا ګل د ادبي جشن کوربه و. دغه جشن د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په کوربه‌توب او د يو شمېر شاعرانو، ليکوالانو، هنرمندانو، فرهنګيانو او مسئولينو په ګډون جوړ شو.

په دې جشن کې د شعر د لوستلو تر څنګ د تیاتر هنرمندانو تمثیلي ټوټې وړاندې کړې او سوله، ګډ ژوند، طبیعت او کرنې ته پاملرنه د شاعرانو د شعرونو او د هنرمندانو د تمثیل اصلي موضوعګانې وې.

څلور کاله کېږي چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په غزني کې د الوبخارا ګل د موسم په رارسېدو سره دغه ادبي جشن جوړوي.

په ملي ارشيف کې د خطي نسخو نندارتون جوړ شو

د «سیمای قرآن» په نوم د قرآن کریم، تفسیرونو و احادیثو د خطي نسخو نندارتون د غويي د دولسمې په مازیګر د کابل ښار په ملي ارشیف کې پرانیستل شو.

نندارې ته د اېښودل شوې آثارو په منځ کې د قرانکریم یوه قلمي نسخه چې شاه ناصرالدین محمود په اومه پېړۍ کې لیکلې وه، یوه بې جوړې تاریخي نسخه هم موجوده وه.

په دې نندارتون کې څلورسوه خطي آثار چې زیاتره یې د اسلامي متونو پورې اړوند دي، نندارې ته وړاندې شوي دي او د غويي تر ۱۹مې نېټې پورې به د مینه‌والو پر مخ خلاص وي.

د څېړنوال مولوي زين الله منلي د لومړي تلين ياد غونډه

د مولوي څېړنوال زين الله منلي د لومړي تلين یادغونډه د غويي پر ۱۴مه د افغانستان د علومو اکاډمي او قلم ټولنې په نوښت په علومو اکاډمي کې ترسره شوه.

د علومو اکاډمي د بشري علومو د برخې مرستیال څېړنپوه دکتور محمد علم اسحاقزي د افغانستان د علومو اکاډمي د عمومي رئیس پیغام ولوست چې په کې راغلي و: د ښاغلي منلي لومړۍ دنده په پښتو ټولنه کې وه، چې کولای شو ووایو چې د علومو اکاډمي له بنسټ ایښودونکو څخه و. استاد منلي څو بعدي شخصیت درلود چې په رسمي دنده یې بسنه نه ده کړې، بلکې لا ډېر فرهنګي کارونه یې ترسره کړي دي، زیاتې لیکنې او ژباړې یې کړې دي. *امخ*

د زري کړکي جايزې اعلان شوې

د زري کړکي اکاډمي د کال غوره کتابونو ته خپلې د ۱۴۰۰ کال د زري کړکي جایزې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د رسنیو په تالار کې د یوه محفل په ترڅ کې د غويي پر ۱۵مه اعلان کړې.

د جایزو د دې لړۍ بنسټګر نجیب منلي د زري کړکي د اکاډمۍ او د هغې د لارښودو اصولو په اړه معلومات ورکړل، وې ویل چې هر کال د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت د افغانستان د قلم خاوندان، د قلم خاوندانو ته دغه جایزې وړاندې کوي. سرکال د پېژندل شوو لیکوالو او نقادانو ټولې د زري کړکي د نهمې او لسمې دورې جایزې په پښتو او دري ژبو، اتو د ادبي او هنري ارزښت درلودونکو کتابونو ته ورکړې. *امخ*

د ايران د عامه کتابتونونو ادبي شورا د "لاله های دشت برچی" په نوم شعري غونډه جوړه کړه

د ایران د عامه کتابتونونو ادبي شورا د غويي پر ۲٦مه د" لاله های دشت برچي " په نوم د افغاني او ایراني شاعرانو او د دواړو هېوادونو د ځینو فرهنګي شخصیتونو په ګډون شعري غونډه جوړه کړه.

دا شعري غونډه تېره اونۍ د کابل ښار د دشت برچي سیمې د نجونو پر یوه ښوونځي دشوي برید په درناوي جوړه شوې وه.

سليم راز وفات شو

د پښتو ژبې شاعر، ادیب او څېړونکی سلیم راز د ۱۴۰۰هـ. ش کال د غويي پر ۲۷مه (د ۲۰۲۱م کال د مې ۱۷مه) د دوشنبې په ورځ له اوږدې ناروغۍ وروسته د ۸۲ کلونو په عمر مړ شو.

د پښتو ژبې دې شاعر، ادیب، کالم لیکوال او څېړونکي سلیم راز د ساه، سینې او د معدې له ناروغۍ ومړ او هم په دغه نېټه ماخوستن اته بجې د چارسدې په سوکړ کلي کې خاورو ته وسپارل شو. نوموړی د ۱۹۳۹م کال د مارچ پر ۲۹ مه د ملک امان خان کره زېږېدلی و.

نوموړی د پښتو نړیوال کنفرانس مشر و او په لومړي ځل یې په ۱۹۸۷م کال کې د پښتو نړیوال کنفرانس تابیا کړې وه او همدا رنګه ۲۲ کاله د ((انجمن ترقي پسند مصنفین)) ایالتي منشي هم و.

د دې ترڅنګ سلیم راز تر ډېره وخته د پښتو او اردو په ورځپاڼو کې کالمونه لیکلي او په یو شمېر ادبي رسالو کې تحقیقي مقالې چاپ شوې دي.

نوموړي شاوخوا پنځوس عنوانه ادبي آثار له ځانه په یادګار پرېښي دي.

د هغه یو شمېر کتابونه چاپ شوي چې په کې تنقیدي کرښې، ادب او تنقیدي مسایل، زه لمحه لمحه قتلېږم، د زخمونو پسرلی (شعري ټولګه)، له باړې تر باړه ګلی (راپورتاژ) شامل دي، په اردو ژبه کې یې هم ځینې کتابونه چاپ شوي او خپله د سلیم راز په فن او شخصیت هم ځینې کتابونه چاپ شوي دي.

د خوشحال بابا فکري بهير ۳۵۰مه نمانځغونډه کې د خوشحال بابا فکري بنسټ پرانيستل شو

د خوشحال بابا فکري بهیر ۳۵۰ مه غونډه د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې په کابل کې د غويي پر ۳۰مه ونمانځل شوه.

د دې غونډې لومړۍ برخه د خوشحال بابا فکري بهیر تېرو غونډو او لاسته راوړنو ته ځانګړې شوې وه او په دویمه برخه کې د خوشحال بابا فکري بهیر د بنسټ اېښودلو زېږی واورول شو.

د درملو او خوراکي توکو لوی رئیس ډاکتر ابراهیم شینواري، په کاناډا کې پخوانی سفیره شینکی کړوخېل، د مهاجرینو چارو وزارت مشاور داوود مجید، د ټاکنیزو شکایاتو د کمیسیون پخوانی مشر ستار سعادت او نعیم افضلي د لومړۍ برخې ویناوال وو.

تاج محمد ياري مړ شو

لیکوال او شاعر تاج محمد یاري د ۱۴۰۰هـ.ش کال د غويي میاشتې پر ۳۰مه نېټه په کابل کې په حق ورسېد.



نوموړی د یارمحمد زوی په ۱۳۳۴هـ. ش کال د پکتیا د زرملې ولسوالۍ د ګلالګو په کلي کې زېږېدلی دی. د ښوونځي تر لوستلو وروسته په ۱۳٦۷ کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د شپې پوهنځي نه فارغ شوی دی.

دی د هېواد په مطبوعاتو کې له څلوېښتو کلونو راهیسې د مرګ تر شېبې پورې مصروفه و. لومړنۍ دنده یې "له ۱۳۵۷- ۱۳٦٦ پورې" د افغانستان بانک د اقتصاد مجلې د مهتمم په توګه پیل کړې، بیا د افغانستان د لیکوالو په انجمن او ملي راډیو تلویزون کې دنده ترسره کړې او له "۱۳۹۵ل" کال څخه وروسته د ژوند تر پایه پورې د ملي راډیو تلویزون د «آواز» مجلې مسئول مدیر پاتې شوی دی.

لومړنۍ شعري ټولګه یې د "ستوري او سیوري" په نامه په "۱۳٦٦ل" کال کې چاپ شوې ده. اړواښاد یاري د فارسي ژبې د نامتو شاعرانو؛ لکه ابوالمعاني بېدل، مولانا، حافظ شېرازي، سعدي، عشقري او ځینو نورو شاعرانو شعرونه یې په پښتو نظم ژباړلي دي.

یاري د پښتو لنډیو په ټولونه کې یې هم ډېر کار کړی او د لنډیو یوه مجموعه یې "یاري په پښتو ادب کې" په نامه ده، په دې ټولګې کې داسې لنډۍ راټولې شوي چې په کې د "یاري" کلمې راغلې دي.

د افغانستان د علومو اکاډمي د اتنوګرافۍ علمي- څېړنيز موزيم

د افغانستان د علومو اکاډمي د اتنوګرافۍ علمي - څېړنیز موزیم د افغانستان په کچه لومړنی اتنوګرافیک موزیم دی چې د کابل ښار په علومو اکاډمي کې موقعیت لري.

دغه موزیم د امیر عبدالرحمن خان د خور شاه بوبوجان په نوم قصر کې، چې د ۱۸۸۰ - ۱۹۰۱ کلونو په اوږدو کې جوړ شوی دی، ځای لري. دغه ماڼۍ په دوو پوړونو کې د تجربه لرونکو داخلي او بهرنیو معمارانو او مهندسانو له خوا په مستطیل شکل جوړ شوی چې د قصر ښایست د نندارې کوونکو پام ځان ته را اړوي.

یاده ماڼۍ د اروپا د رنسانس دورې په سبک له خښتو، ختو، او لرګیو څخه په استفادې رغول شوې، همدارنګه د قصر پر لرګیو کېندنې، د چت تزئینات او د دخولي دروازې پایې د دې قصر ښکلا لا زیاته کړې ده.

د وخت د جمهور رئیس حامد کرزي د فرمان پر اساس دغه قصر په ۱۳۸۱هـ. ش کال کې د افغانستان د علومو اکاډمي علمي- څېړنیز موزیم ته ځانګړی شو.

د اتنوګرافۍ په دغه موزیم کې ګڼ کمیابه فرهنګي او پخواني اتنیک آثار له پېژندنې وروسته راټول شوي او په معیاري توګه په مشخصو خونو کې تنظیم او نندارې ته ایښودل شوي دي.

د اتنوګرافۍ او هنر د برخې څېړونکو او نندارې کوونکو ته دغه آثار په درېوو برخو کې نندارې ته ایښودل شوي دي: *امخ*

تازه چاپ شوي آثار

د اورمړي ژبې لیک، لوست او ګرامر: څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ لیکلی او په ۳۸۱ مخونو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو رياست له لوري چاپ شوی. درې برخې لري چې لومړۍ برخه یې اورمړیان او د هغوی تاریخ، دویمه یې د اورمړي ژبې تشریحي ګرامر او دریمه برخه یې د اورمړي ژبې تاریخي ګرامر موضوعات لري.

د ژبې اروا‌پوهنه: د نبي ستوري اثر دی چې د سولې مطالعاتي، څېړنیز او خپرندوی مرکز له خوا خپور شوی دی. شاوخوا ۲۰۰ مخونه لري او تر ډېره د ژبې او اروا‌پوهنې ترمنځ مسایل څېړي چې ډېر تمرکز یې د ژبې او ذهن تر منځ پر اړیکو راڅرخي.



محشر: د شاعر او لیکوال عبدالباري جهاني یوولسمه شعري ټولګه ده چې د هغه د وروستیو درېوو کلونو نظمونه، غزلې، لنډۍ په غزل کې (نوی فورم)، آزاد شعرونه، ټوکې په شعرونو کې، شعري ترجمې او کیسه‌ییز نظمونه په کې په ۳۵۷ مخونو کې رانغاړل شوي او کندهار کې د "صداقت خپرندویه ټولنه" له خوا خپور شوی دی.